مسئولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد



پوهاند محمد بشیر دودیال

۲۰۱۹/۰۱/۱۶

# سیمه ییز اقتصاد، اړتیا او له دې پلوه په سیمه کې د افغانستان دریځ

دریمه برخه

*"...اوس افغانستان د منځنۍ آسیا او جنوبي آسیا یوه مهمه برخه ګرځیدلی او هیڅوک یې له اهمیت څخه سترګی نشی پټولای..." دوکتورمحمد اشرف غنی*

**د منطقوي اقتصاد درې ټاکلی او مهمې ساحې**



کله چې اقتصاد پوهان، پالیسی جوړونکی او متصدیان دې ته ځیرشول چې ټاکلی تولیدات باید ټاکلو منطقوي وشی اودمفاد داعظمی کیدو لپاره، په یوه معین ځای کې دتصدیو په استقرار تینګار وشو او په محل کې دتولید تمام شد لګښت او دلیږداو ترانسپورت مصارف مقایسه شول او د ویبر مطلوب محل [۱] (weber optimum location) تجربه مثبته ثابته شوه، نو د منطقوی اقتصاد ساحات د ټول عمومی اقتصاد له لویي ساحي څخه جلا شول چې هغه دادي:

**۱.د کورنیو او صنایعو، دوارو لپاره منطقوی تحلیل**

په منطقوی تحلیل کی کورنی مصرف کوونکی ده او تصدی تولید ترسره کوي. دا چې ددې دوارو په پام کې نیولو سره به مفاد څنګه اعظمی شي، همدا پوښتنه د منطقوی اقتصاد اساسی نقطه ده. دې ته د location analysis نوم ورکړل شو.

**۲.د ویبر مطلوب محل**

ویبر په ۱۹۰۹ م. کال کې تصدی ، په فضا کی د یوې نقطی په توګه فرض کړه. تصدی په خپله د یوه تولیدی واحد په توګه یو ساده جوړښت دی چې د Micro economics د اصولو له مخې خپله ګټه زیاتوی. د ګټی زیاتول د تصدی لپاره یو ډیر معقول دلیل دی. د همدې دلیل له مخی تصدی یو داسې ځای غوره کوي چې د خامو او کار تمامو توکو لیږد ورته ارزانه تمام شي، د کار ماهر ځواک موجود وی، د مارکیټ ستونزه نه وی او کافی انرژیکی مواد په لاس کې وي.

پورتنی دوه ټکی یعنی د محل تحلیل او د تصدی استقرار ابتدایي ټکي وو. په منطقوی اقتصاد کی وروسته تر ۱۹۵۰ م. کال ډیر زیات پرمختګ راغی او د منطقو د حدودو د ټاکلو لپاره اساسي نظریات ورکړل شول.

**د منطقوی اقتصاد ډیزاین او د تصدیو استقرار**

په یوه ټاکلي فضا کې د اقتصادی فعالیتځای (فابریکې او کارخانو)تمرکز او استقرار د مفاد د اعظمی کولو په موخه وي. د دې عمومي حکم له مخې به ډیر غوره محل(ځای، مکان) هغه وي چې په ممکنه طریقه سره د تصدی ګټه په اعظمی نقطه کې او لګښتونه یې اصغری نقطه کې وي، خو په عمل کې د اسقرار د دې ډول نقطي موندل ساده کارنه دی، نو دې موخې ته د رسیدلو لپاره باید ډیر اړخونه وکتل شي. دغو هڅو له ۱۹۰۱ کال څخه دوام درلود اوپه ۱۹۵۰ م. کال کې د تصدیو او اقتصادی فعالیتونو د اسقرار د محل د تخصیص د جغرافیایي حل لپاره تحلیلی چوکاټ ومنل شو. وروسته له همدې کال څخه هم د منطقوی اقتصاد او هم د ښاري اقتصاد هڅې د منطقوی اقتصاد، ډیزاین او د تصدیو استقرار ته اړم شوې. په شروع کې دمنطقوی اقتصاد ډیرساحات د عمومي اقتصاد پربنسټ جوړ شول. چې په دغه منطقه کې محل او جغرافیا یې فضانه تحلیل کیده. په پیل کې د حمل او نقل د اقتصادیتوب لپاره

---

[۱] weber په دې تینګار درلود چې باید د منطقی لپاره یو موډل په پام کی ونیول شي په دغه موډل کی باید تصدی ته د خامو توکو د لیږد او له تصدی څخه مارکیټ ته د کار تمامو توکو د لیږد مصارف په اقل حد کې وي. همدی ته د ویبر موډل او weber optimum location نوم ورکړل شو.




افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

خطي موډلونو څخه کار اخیستل کیده، خونسبي مزیت او نور سره تړلي عوامل او فکتورونه نه سنجول کیدل، خو اوسني وخت کې د ترانسپورت د لګښت ترڅنګ طبیعی منابع، ښاری پرابلم او مهارتونه هم په پام کې نیول کیږي.

**دمنطقوی اقتصاد در ی پوښتني**

په ټول اقتصاد کې مونږ دې پوښتنو ته ځواب وایو چې، چې څه تولید کړو، څومره یې تولید کړو، څرنګه یې تولید کړو او چاته یې تولید کړو؟ منطقوی اقتصاد چې د عمومي اقتصاد په رڼا کې څیړل کیږي، دربو ځانګړو پوښتنوته باید ځواب ووایي:

۱- څه او چیرته باید تولیدشي؟
۲- ولې؟
۳- پایله به یې څه وي؟

د پورتنیو پوښتنو په ځواب کولو سره به داقتصادي سیستمونو په فضایي بُعد او د فضایي بُعد په خصوصیاتو وپوهیږو.یعنی مونږ به په فضا یې بُعد کې هغه عوامل ډیربنه په کار واچوو چې اقتصادی فعالیت وربانديې ترسره کیږي او د منطقه یې اقتصاد په اغیز منتوب سره به د ټول اقتصاد د ودی سره مرسته وشي.

په پورتنیو پوښتنو کې باید د(څه؟) ځواب داوي چې په ټولو اقتصادي فعالیتونو باید څارنه او نظارت وشي. دغو اقتصادی فعالیتونو کې هم تولیدی تصدی(فابریکې، کروندې، دځارویو روزنې فارمونه، کانونه، د کبانو روزنه، حجاری او نجاری او نور) او هم خدمات (لکه سوداګري، روغتیا، ښوونه اوروزنه، مخابرات اونور) شامل وي چې هم دولتی او هم خصوصي سکتور پکې راځی، دهمدې لومړۍ پوښتنې(چیرته ؟) باید ځواب داسي منطقی او معقول وي، چې داقتصادي فعالیتونو ځای وربانديې وښودلای شو.

د دوهمي او دریمي پوښتني ځوابونه په حقیقت کې د اقتصاد پوه په خپل تحلیل، تجربه او پوهي پورې اړه لري چې د اقتصاد له آفاقی او عمومي پوهي څخه یې ځوابو لای شي.د پورتنیو دربو پوښتنو څخه ښکاري چې منطقوی اقتصاد، په اوسنی پرمحتللی او سنجول شوی بڼه باندې داقتصاد دعلم یوه نوې څانګه ده او په دې ورستیو کې یې درامینځته کیدو دلیل دادې چې پخوا اقتصاد پوهانو داقتصاد دعلم په پوښتنو(څه؟. څومره ؟ څنګه؟ ...) کې د (چیرته ؟) پوښتنه نه وه ور اضافه کړی او نه یې نتیجه مطرح کړي وه. یعنی داقتصاي فعالیتونو فضایي بُعدیې، اقتصادی تحلیلونو کې نه و شامل کړی. حال داچې اوس دمنطقوی اقتصاد په رامنځته کیدو سره دغې پوښتنې هم ځواب وموند او ډیره ښه حل شوه.

سره له دې چې داقتصادی جغرافیي علم څه ناڅه دسیمو اقتصادی خصوصیات، اقتصادی پوتانسیل، دسرچینو اندازه او موقعیت ، مساعد اقلیم اونور مسایل توضیح کول او اقتصاد پوهانو ته یې بیلابیلو جغرافیا یې سیمو کې داقتصادی امکاناتو او ریزرفونو ښه معلومات ورکول،خو داقتصادی فعالیتونو په اسقرار او جغرافیایي سیمو کې یې دانسانی چلند لپاره ځواب نه ورکاو. دښارونو پلان جوړونکو یواځی داسکان، لارو، ډګرونو، عامه خدماتی سیمو، تجارتی اوصنعتی مراکزو سیمو په ښودلو کې کار کاو، خوپه جغرافیایی ساحه یافضایي بُعد کې یې اقتصادی فعالیت کې تخصص نه درلود، دپورتنیو نیمګړتیاوو په درک سره داقتصادي جغرافیې، چاپیریال پوهنې ( Enviornment Science) ښاري پلان جوړونکو او دسیموپیژندنې او دطبیعي منابعو داقتصاد ( Natural Resources Economics) پوهانولاسونه سره ورکړل او دمنطقوی اقتصاد بنسټ یې کیښود چې د Chirstaller, Losch،Predoht, Weber, Plaunder, Hotelling او Raleigh Barlewe نومونه دیادونې وړ دي.باید هیره نشی چې ښاری اقتصاد او منطقوی اقتصاد سره جلادي او یوبل څخه بیل مسایل څیړی. خو د دواړو ترمنځ ورته والی او ګډه همکاری شته. دبیلګې په توګه د یوه ښار درامنځته کیدل په پیل کې دیوی کوچنی منطقي په توګه وي. همداسي هم دځو صنعتی سیمویوځای کیدل او دځو کوچنیو ښارونو یوځای کیدل یوه لویه منطقه جوړوي. ځیني اساسات هم شته مثلاً دتوریزم دمنطقي معرفي کول.

دتوریزم ساحه ممکن ښاري نه وي. بلکې یابه تاریخي ارزښت لری، یابه طبیعی جاذبه لری، یابه داوبو غاړی وی او داسي نور، خو داقتصادی عاید او اقتصادي منطقي په توګه به ارزښت ولری، یعنی دښاری مطالعي اوتحلیل په بحث کې به شامله نه وی، مګر داقتصادي مناطقو بحث کې به ډیره مهمه وي. ممکن ښاري مطالعاتو کې دځوپوریزو ودانیو ډیزاین ،لمر اوسیوری اوداسي نور مسایل شامل وی، خو دمنطقوی اقتصاد په تحلیل کې دې ډول ټکیوته اهمیت نه ورکول کیږي. نوځکه دښاري او منطقوی اقتصاد څانګې دنژدیوالی او ورته والي سره سره توپیرونه هم لري.

**د منطقو ډولونه**

الف) مرکزی یا هسته یي منطقي: هغه ټاکلي منطقي چې د تجارتي او اقتصادی فعالیتونو مهمه او ډیره برخه هلته متمرکزه وي. په دغه ډول منطقو کی دننه د مراتبو سلسله موجوده وي، لویو تصدیو او فعالیتځایونو سره نوري فرعی شبکي او کوچني تصدی تړلي وي او تجارتي او اقتصادي روابط د مراتبو د سلسلي له مخی پر مخ روان وي. ځینی وخت په خپله مرکزی منطقه کي نوري اقتصادی منطقی فعالیت کوي. په دغه ډول منطقو کی د اقتصادی


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ

او تجاری مرکزونو شاوخوا د اوسیدو سیمی (مسکوني ساحات) هم وي چې د مسکوني او تجاری مراکزو ترمنځ متقابل ټینګ روابط موجود وی چې اوسنی وخت کی ورته د MSA یا Metropolitan Statistical Area نوم ورکړل شوی دی.

ب) سره ورته homogeneous منطقي: د فعالیتونو، اقلیمي ځانګړتیا د او کلتوری بنې له پلوه سره یو شانته سیمي دي. دغه ډول مناطق په ډیرو هیوادونو کی لیدل کیږی. دغه ډول منطقي مشـــابه اقتصـــادی فعالیتونه لري لکه په افغانســـتان کي مرکزی ولایتونه چې ډیر سره ورته دي، په شمال کی څو ولایتونه چې د خپلو تولیداتو، جامو، خوراک او نورو له پلوه سره ورته دی. دبیلګي په توګه د ختیځو د تولید منطقه. ممکن ددې منطقو حدود ډیر څرګند نه وی ښودل شوی.

ج) اداري منطقي: دغه ډول سیمي د مدیریتي موخو لپاره دي. ددغو سیمو حدود ډیر څرګند ښودل شوی وي. ددغه ډول سیمو اهمیت ددولت د پالیسیو د جوړولو او تطبیق له مخي دی.

د) ضعیفی منطقی : د منطقوی اقتصاد ډیزاین کوونکی او اقتصادی پالیسی جوړوونکی زیاتره هڅه کوي چې لومړی ضعیفه منطقه وپیژنی او دلته داقتصادی فعالیت داستقرار ښخه ځان وساتی. په ضعیفه منطقه کي یویا څو ټکی نه وي بلکي ډیر عوامل یکی شــته، نو ځکه پیژندنه او دهغې په نښــه کول ســتونزمن کار وي. په دی تحلیل کي هغه پخوانی تصــدی چې اوس ناکامه پیژندل شوی، هم ضعیفه منطقه کي راځی او باید ورڅخه صرف نظر وشی. داځکه چې دوی نور په موډرن اقتصاد کي خپل رول نشــي لوبولای. دبیلګي په توګه له نن څخه ځلوبښــت کاله مخکي دمسـي دیګونو اومسـی لوښـو محل میوند واټ او دزاړه ښــارتخته پل اوریکاخانی ته نژدی محل کي و. خو نن ورځ مسی لوښـي مارکیټ نه لری. دلته دمارکیټ، عصــری تکنالوژی، روغتیا، دخلکو روحی مطالعه اودي ته ورته ټکی مطالعه کیږي،نو په لنډیز سره ویلای شو چې منطقوی اقتصاد اوسني وخت کي دیوی علمی ځانګي حیثیت غوره کړی چې د دري ډوله منطقو په توپیر کولو سره داقتصادی فعالیت دمحل په استقرار فکر کوي. دوي مرکزی، مشــابه او ضــعیفه منطقي تفکیک کوي. په مرکزی منطقه کي دبین المنطقوی متقابله تاثیراتو ترڅنګ له عمده اولویو مرکزونو سره داقتصادی فعالیت دجریان څرنګوالی په پام کي نیول کیږي. خومشابه مناطق دسره ورته والی له مخي جوړیږي. اداري منطقي صرف دسیاسی تصامیمو او مدیریت،پلان او اداري چارولـه مخي اهمیت لري چې ځیني وخت موقتي وي.

**منطقي د کومو شرایطو له مخي رامنځته کیږي؟**

دیوي اقتصادي منطقي دتشکیل لپاره دري دلایل یاعوامل موجود دي:

**I . نسبی مزیت:**

ځانګړي سیمي د ځانګړو ښېګڼو له مخي د یو شمېر اجناسو په تولید، یا د یو شمېر خدماتو په عرضه کي د نورو په پرتله اوچتوالی لري ، دغه د یوې سیمي برتري نظر بلي ته نسبي مزیت بلل کیږي.

د بیلګي په توګه د کرني په سکتور کي د ننګرهار ولایت د خپل مدیترانه يي اقلیم له مخي د ستر وسو کورنـۍ میوو په تولید کي د هېواد د نورو سیمو په پرتله برتری لري، حال دا چې پروان او کندهار د انګورو د کیفیت او کمیت له پلوه، او کاپیسا د انارو په تولید کي اوکندز د ختیځو په تولید کي اوچتوالی لري، همداسي هم د کانونو له مخي د یو شمېر طبیعي زیرمو او آن د کار ځواک د ځانګړي تجربي او مهارت له مخي دغه ډول برتری د پیژندلو وړ ده . نه یوازې د یو هېواد دننه بلکي په ټوله نړۍ کي همهېوادونه په ځینو برخو کي د نسبي مزیت لرونکي دي.

همداسي هم په یو شمېر سیمو کي د یو شمېر اجناسو تولید نظر نورو ته ډېر ارزانه تماميږي، دې ته نسبي ټیټ لګښت هم ویل کیږي، په دې توګه د نسبي مرزیت او نسبي لګښت (Comparative cost) په یوه معنا سره راتلای شي، نسبي لګښت هم د سیمي او هم د هېوادونو په کچه مطرح کېدای شي، د بېلګي په توګه په یوه ټاکلي هېواد کي یو ټاکلی جنس د هغه د خامو توکیو د پریمان او ارزان له امله زیات تولیدیږي، نو ښکاره خبره ده چې دغه هېواد ته یې تولید ډېرګټور تماميږي، د ریکاردو په نظر یو شمېر سیمي یا هېوادونه د اجناسو په تولید کي د مطلق مزیت ترڅنګ نسبي مزیت یا ښېګڼه هم درلودای شي. دا هغه حالت دی چې د دوو سیمویا هېوادونو ترمنځ د سوداګرۍ ګټور توب پرتله اوتوضیح کوي. که چېرې A هېواد د B هېواد په پرتله یو یا څو اجناس په لږ لګښت تولید کړي او ددغه جنس په تولید کي تخصص پیدا کړی، په دې توګه A هېواد کولای شي همدغه جنس چې تولید یې ورته په لږ لګښت تماميږي، او تخصص پکي لري تولید او B هېواد ته یې صادر کړي، نو ورته ګټور دی. په دې توګه A هېواد نوموړی جنس یا اجناسو یو بازار تولید لري او صادروونکی هېواد دغه جنس ته اړتیا لري ځکه چې تولید یې ده ته ګران پریوځي، نو په دې توګه دا د کار نړیوال وېش او تجارت ته یو اساس جوړ وی، چې د نسبي مزیت یا پرتله ییزي ښېګني د قانون په نوم نومول شوی دی. د مطلق مزیت نظریه Absolute Advantage Theoryوایی چې: که یو هېواد نظر بل هېواد یا نورو هېوادونو ته یا یوه سیمه نظر نورو سیمو ته د یوه جنس په تولید کي یو شمېر غوره توبونه لکه د خامو توکو کافي شتوالی، د کار ځواک لرل، مهارت ، مساعد اقلیم ، جغرافیایي ښېګني او داسي نور ولري او دغه مزیت د نسبي مزیت په پرتله هم اوچت او لا زیات غوره وي، مطلق مزیت بلل کیږي.

**II. دترانسپورت لګښت**

هغه مســاعدې منطقي چې لویو ښــارونو او مارکیټونو ته لنډې وی او دتولیدشــویو اجناســو لیږد ارزانه تماميږي. یادخامو توکو ســرچینوته نږدې واټن کي دمنطقي اســتقرار، چې دخامو توکو لیږد آســانه شــي.لکه پخوا چې دتنګی غارو دمرمرو او رخامو معدن ته نژدې په پلچرخی کي د مرمرواو د رخامو فابریکه جوړه شوې وه یا په کندز کي دلبلبو او مالوچودتولیداتو دپروسس په خاطر دشکرې او سپین زردفابریکي تأسیس او داسي نور مثالونه .

**III. د مقا یسي له پلوه عواید**

هغه ساحات چې دانرژیکی منابعو (بریښنا، ډېرو سکرو اونورو) له مخي دا توانایي لري چې په عصری تکنالوژی تولید ترسره کړی، نو دلاس پرځای تولیدپه پرمختللی تکنالوژی او ماشین باندې بدلیږي.



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de

یادونه: دلیکني د لیکنیزي بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولـئ

**IV. سره تړلی تولیدات اوخدمات**

زیاتره وخت یوشمیر ماشینی صنایع له نوروسره تړلي وی.نوکه یوصنعت په یوه منطقه کې تأسیس او استقرار مومی، ورسره نور تړلي صنایع هم ورلیږدي، دبیلگې په توگه که دمالداری په سیموکې دځرمن تولید ترسره کیږي یاد ترانزستور رادیو گانو فابریکو سره دوچو بطریو دتولید فابریکه، دبوټانو دتولید د فابریکي ترڅنگ د بوټانود بندوونو دجوړولو فابریکه، فابریکو ته نږدی د هوټلونو جوړیدل اوداسي نور. په دې توگه دمنابعو تحرک اقتصادی مناطق ایجادوي او نور هم انکشاف ورکوي.

نیوکلاسیکان وایي چې یوه لوری ته دکار دمهارت، پانگې، دتولیدی سرچینو تجمع او ورتولیدل هم داقتصادي منطقي یامنطقوی اقتصاد داسقرار او ایجاد دلامل گرځی. دوی وایي چې زیات شمیر اوسنی پرمختللی مناطق د همداسې یوه حرکت زیږنده دي چې په یوه اوږده موده کې ترسره شوی وي.

د اقتصادی فعالیتونو د موقعیت د تحلیل په برخه کی هغه لومړنی پوښتنه چې مخې ته راځی، هغه داده چې په یوه منطقه کی کوم شی یا کوم شیان او فکتورونه د په کار اچول شوی پانگې اندازه او ډول ټاکي؟

آلمانی الفرد ویبر په ۱۹۰۹م. کال کې د تولید د موقعیت موډل رامنځته او هغه ته يي انکشاف ورکړ. په دغه موډل کې داسی فرض کیږی چې تصدئ په یوه جغرافیایی فضا کې یوه نقطه ده او په عمومی توگه یوه تصدی د یوې منفردی یا ځانگړی دستگاه په توگه فرض کوی ( حال دا چې یوه منطقه کی ځینې وخت ډیرې تصدئ وی). تصدی ته د مفاد د معقولانه اعظمی کولو فرضیه دا پوښتنه را پیدا کوی چې آیا باید تصدی په کوم ځای (محل) باید موقعیت ولری؟ فرضیه دغه پوښتنه په دی بلې پوښتنې رااړوی یا انکشاف ورته ورکوی چې آیا تصدی په کومه نقطه کې غواړی چې خپل مفاد اعظمی کړی؟ دلته نسبیی مزیتونه، د موادو بیې، د تولید مصرف، بازار سره فاصله او محلی پوتانسیل دغو پوښتنو ته خواب وایی. د اوږدو مطالعاتو او څیړنو په ترڅ کې هم کلاسیکانو او هم نیوکلاسیکانو دی برخی کی کار وکړ او څو موډلونه یی وړاندی کړل. نن ورځ هیوادونه دمنطقوی اقتصاد تیوری او موډلونو(دواړو) ته اهمیت ورکوی او هغه عملاً تر کار لاندې نیسی.

د اقتصادی انضمام او دنړیوالتوب (globalism ) په اوسنی دور کې نړیوالو لویو اقتصادی سازمانونو ته د جوړیدو لاره هواره شوی ده او په دی برخه کی نوری هڅې هم رواني دي. له همدې فرصت څخه په استفادی سره د منطقوی مرستو لپاره هم موقع برابره شوه او یو شمیر هیوادونو وکولای شول چې منطقوی تړونونه او منطقوی اقتصاد راجوړ کړی.په تیره بیا په اروپا کې د تړونو او توافقاتو بنسټ د آلمان، فرانسی، ایټالیا، بلجیم، هالند او لوکزامبورگ د هیوادونو د توافق په پایله کې کیښودل شو. دغه پیښه د ۱۹۵۷م. کال د مارچ په لومړی نیټه وشوه، چې پایله یي بیا په ۱۹۵۸م. کې د جنوری په لومړی نیټه د اروپا د اقتصادی ټولنې رامنځته کیدل و. دغه تړون د دې لامل شو چې د لویدیزی اروپا هیوادونه وکولای شی چې د نړی په کچه د کورنیو تولیداتو تر ټولو یو لوی بازار رامنځته کړی، له دی سره یوځای دوی خپل اقتصادی او سیاسی تړون او پیوستون او یووالی نور هم کلک کړ.

په شمالی امریکا کې لومړنی منطقوی موافقه او اقتصادی تړون په ۱۹۶۵م. کال کې د متحده ایالاتو او د کاناډا ترمنځ لاسلیک شوه، چې مهمه برخه یې د موټرو او د موټرو دپرزو د آزادې سوداگری په هکله وه.

په آسیا کې یوه مهمه منطقوی موافقه د آسیا د جنوب ختیزو ملتونو ترمنځ وه چې په ۱۹۶۷م. کال کې د (Association of South east Asian Nations - ASEAN ) په نوم رامنځته شوه. دغه تړون و کولای شول چې د اندنیزیا، مالیزیا، فلیپن، سینگاپور او تایلینډ د هیوادنو ترمنځ قوی خپل منځی اقتصادی ، کلتوری او ټولنیز روابط کلک او دوی ټول د سولې او ثبات خواته اوچت گامونه واخلی چې اوس هر یو پیاوړی او پر مختللی اقتصاد لري. همداسې هم په افریقا کې ورته گامونه اوچت شول.

افغانستان په سیمه کې ډیر یو پیاوړی او مساعد ستراتیژیک ارزښت او خاص منطقوی دریځ لری ، که موږ غوره پالیسی ولرو له دغه موقعیت څخه د سرو زرو په شان گټه اوچتولای شو. زموږ موقعیت هم زموږ لپاره او هم د گاونډیو هیوادونو او د مرکزی آسیا، جنوبی آسیا او د دوو نویو لویو اقتصادونو ( هند او چین) لپاره مهم دی. افغانستان کولای شی د تجارت او تمدن په څلور لارې واوړی (لکه زرگونه کاله مخکی یی چې همداسې یو غوره درځ درلود) او د سالم رقابت له لاری د سیمی هیواو ته په یوه غوره اقتصادی دهلیز بدل شی. افغانستان د سیمی د هیوادونو د اقتصادی زیربنا ودې او د ترانزیت او لیږد امکان برابروی.

**افغانستان او د منطقی اقتصاد**

افغانستان له جغرافیاوی پلوه په سیمه کی فوق العاده اهمیت لری. افغانستان د منځنی آسیا، منځنی ختیځ او د جنوبی آسیا تر منځ د یوه پله حیثیت لری او د سیمی د لویو او نویو اقتصادونو (هندوستان او چین) لپاره نړیوالو بازارونو ته د لاری په توگه ارزښت لری. په سیمه کی د تاریخ په اوږدو کی داسی مدنیت نه و او نشته چې پرته د افغانستان له گډون څخه رامنځته شوی وی. د تجارت لرغونی او ډیره مهمه لاره (د وریښمو لار) Silk Routh له افغانستان څخه تیریدله او په معاصر وخت کی یې یو ځل بیا خپل مهم ستراتیژیک اهمیت بیا وموند. په سیمه کی د نوی وضیعت راڅرگندیدو دا وښوده چې په سیمه کی منطقه یی اقتصاد ته اړتیا ده او د لاجبرو او وریښمو لاره باید بیا نوی شی. د روسیې، چین او هندوستان ورځ په ورځ پیاوړی کیدونکی اقتصاد په منطقه کې یو نوی وضعیت ایجاد کړی دی



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینگه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

چي د افغانستان همکاری ته اړتیا لری. افغانستان همدا اوس د سیمی یو شمیر منطقه یی جوړښتونو لکه ECO, SCO او SAARC کی فعال ګډون لری. په دې وروستیو کې د لاجوردو لار هم پرانیستل شوه. دلته به د دغو سازمانونو پیژندنه راسره مرسته وکړی چی د افغانستان دریځ جوت شی.د مالونو تبادله ترانزیت او بهرنۍ سوداګری د نن ورځی د اقتصاد یو مهم بحث دی. زیاترو هیوادونو خپل اقتصاد د ترانزیت او سوداګری له لاری ښه کړی دی. له نیکه مرغه افغانستان د خپل جغرافیاوی موقعیت له پلوه په یوه ډیرښه دریځ کی دی. ټاپي پروژه، کاسازر(د نوری فایبرپروژه) او د منطقي دریل پټلی پروژه د دې ډول منطوی همکاری ښه مثالونه دی. افغانستان کولای شی له خپل ستراتیژیک موقعیت څخه په استفادی د مرکزی آسیا او جنوبی آسیا ترمنځ د یوه پله حیثیت ترلاسه او د تجارت په څلورلاری بدل شی. افغانستان ډیر پخوا هم کله د وریښمو د لاری پر سر پروت و او کله یی د لاجوردو د لاره مهمه برخه جوړوله. اوس چی یو ځل دا امکان برابر شوی دی چی مرکزی آسیا له جنوبی آسیا سره وصل شی، د افغانستان لپاره یو ډیر مساعد فرصت دی. د افغانستان مهم دریځ ته په ترکیه کی (د آسیا زړه) په کنفرانس کی د شانګهای د سرمشریزی په غونډه کی او په ۲۰۱۶ م. کال کی د عشق آباد د نړیوال ترانزیت په غونډه کی دی مهمی موضوع ته اشاره وشوه او د سیمی هیوادونو په تیره بیا تاجکستان، چین، ترکمنستان، هند او ازبکستان کلک لیوال دی چی د افغانستان لاری خپل منځنی سوداګری پیاوړی کړی، د چین هیواد ته د افغانستان له اقتصادی او ترانزیتی پلوه ډیر اوچت ارزښت لری، له بلی خوا دا به افغانستان لپاره یو ډیر ښه فرصت وی چی د سیمی د هیوادو له علاقمندیو څخه او د ECO, SCO, WTO او SAARC په سازمانونو کی د غړیتوب په لرلو خپل اقتصاد ته پرمختیا ورکړی.
په نړیوال تجارت او اقتصاد کی ورګډیدل او د Globalism په اوسنی دوران کی خپل اقتصادی دریځ پیاوړی کول د اوسنی عصر یوه تازه او نوی غوښتنه ده. هیڅ هیواد له نړیوال اقتصادی کاروان څخه په انزوا کی نشی پاتی کیدای. له بده مرغه افغانستان له نن څخه ۱۳۰ کاله مخکی له خپلو طبیعی سرحداتو څخه محروم او د استعماری ځواک له استعماری تصمیم سره سم یی یوه برخه جلا او له نړیوالو اوبو سره یی رابطه پری او په وچه پوری یوه ایسار هیواد باندی بدل شو، دا هغه وخت و چی د نړۍ د تجارت مخه له وچی پوری ایسار او د نړیوال تجارت څخه ګوښه شوی دی، دا دی یو ځل بیا په سیمه کی داسی یوه اړتیا او تفکر رامنځته شوی چی د مرکزی آسیا هیوادونه له جنوبی آسیا سره تجارتی روابط ولری او د ترانزیت لاره به له ختیځ څخه تر لویدیځ پوری له شانګهای او قراقرم څخه تر ترکیی، ارمنستان او اروپایی هیوادو پوری ورسیږی. کله چی د Euro – Asia نظریه باندی کار کیده، افغانستان ورته مرکزی نقطه ټاکل شوی وه په دی کی یوه هم د وریښمو لروغونی لاره ده.




د شانګهای غړی د Euro Asia طراحان او د مرکزی آسیا هیوادونه په دی فکر کی دی چی د وریښموډیره لرغونی لاره وه، یو وخت د وریښمو اوولاجوردو تجارت له دی ځای څخه کیده، اوس به یو ځل بیا دسیمی تجارتی لارې له افغانستان څخه پیل تیریږی، د افغانستان له شمال څخه تر تیریدو وروسته به د دوست او ګاونډی هیواد ترکمنستان تر (ترکمن باشی) بندر پوری ورسول شی. وروسته به اروپا ته ډیر لنډ هیواد یعنی آذربایجان ته ځي. هلته به د باکو له تاریخی ښار څخه د ګرجستان تفلیسی ته او له تفلیسی څخه په ترکیی ته ورسیږی. د ترکیی د هیواد هغه ډیره مساعده بندری منطقه چی د اروپا خواته به د (مبدا بندر) حیثیت ولری. د (قارس) سیمه ده د قارس سیمی د ترکیی د ځمکنی ترانسپورت په واسطه له استانبول سره نښلی چی وروسته له هغه استانبول بیلابیلو اروپایی هیوادو ته لاره لری. په دغه ټول مسیر کی د وسپنی پټلی موجودی او فعاله دی، صرف په څو نقطو کی د هغو وصل کول په کار دی. اوس چی له آقینی څخه د ریل پټلی هیواد ته رارسیدلی او له هغه ځایه د حیرتان بندر ته غځول کیږی، داسی پلان هم موجود دی چی د آقینی څخه به د هرات خواته ځي او له هغه ځایه به تر زرنج پوری ورسول شی له زرنج څخه تر چابهار پوری د هندوستان هیواد مرستی ته تیار دی چی د وسپنی پټلی وغځوی په دی توګه به اروپا له ټولی آسیا او په آسیا کی تر ټولو لوی هیواد (هندوستان) سره وتړل شی چی افغانستان به یکی محوری نقطه وی. په دی کی


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

پاکستان هم ډیر لیوال دی چی له باکو بندر سره ونښلی. د افغانستان او په دغه مسیر کی د پرتو هیوادو لپاره د دی لاری اهمیت یواځی په دی کی نه دی، چی ترانزیت به لنډ او ممکن او د وچی بندرونه به وصل شی، بلکی بل ارزښت یی دا دی چی یوه واحده تعرفه به وټاکل شی او ډیر بندیزونه به لری شی. افغانی محصولات (غالی، انار، انګور، خټکي، لاجورد او ډیر نور) به په ډیره ښه بیه بهر ته ورسولای شو.

د وریښمو(لاجوردو) د لاری پر سر د پرتو هیوادو تر ګټو به زمونږ ګټه زیاته وی. دا ځکه چی:

- په فاریاب، بلخ، کابل، کندهار(که ممکنه وی هرات کی) به د تجارت دفترونه او د دغه مسیر د ترانزیت او د ګمرک تاسیسات جوړ او منطقوی اقتصاد به رونق پیدا کړی.
- د ۲۵۰۰ تنو شاوخوا به افغانان پکی استخدام شی (د محلی کار کوونکو تر عنوان لاندی)
- دانتقال لګښت به فوق العاده کم شی.
- چین غواړی د خپلو توکو په صادرولو سره د دغی لاری په خاطر د افغانستان دولت ته ټاکلی ترانزیت ورکړی چی د دی ګټه د تجارت حجم پوری اړه لری او دا به د تجارت په پیل کیدو سره ثابته شی، خو خامخا به له دی مدرکه کافی اسعار د افغانستان په برخه شی.
- مونږ به د تورغونډی او اقینی په شمول ښځه د وچی بندرونه ولرو چی نړیوال تجارت به ورباندی ترسره کیږی.
- د افغانستان د محلی تولیداتو د پلورلو امکان به برابر شی.
- د ترکمنستان، ترکیی، آذربایجان او ګرجستان هیوادو سره به نږدی اقتصادی – سیاسی او کلتوری اړیکی رامنځته او دغه تاریخی دوستان به نور هم په روابطو کی سره نږدی شی او ګمرکی مشترک (ګډ) عملیات به په ګډه پر مخ بوځي چی افغانستان ته ګټور دی.
- د یورتنیو هیوادونو له ګمرکونو سره د افغانستان د ګمرک ترل کیدل به د افغانستان د ګمرک د کارکوونکو ظرفیت ته ډیره ګټه ورسوی.
- افغانستان به د ایران او پاکستان له سیاسی فشارونو او ځینی وخت د تجارو د ځورولو او د لاریو له درولو خلاص او سوداګری به ګړندی شی او له ترلیا څخه به د افغانستان ډیر ښه بدیل او ایلترناتیف وی.

له تیرو یونیم سلو کالو راهیسی افغانستان له تجارتی پلوه بد حالت کی دی، خو په له هغه څخه مخکی بیا ۲۰۰۰ کلونو وړاندی پوری افغانستان د مدنیتونو څلور لاری او د تجارتی کاروانسرایونو او تجارتی لاری (د وریښمو لار) مهمه کړی وه. دا دی اوس یو ځل بیا دا زمینه برابره شوی چی افغانستان له خپل جغرافیاوی مهم موقعیت څخه ګټه پورته کړی او له نړیوال اقتصادی بهیر او تجارتی کاروان سره ګام اوچت او خپل اقتصاد پیاوړی کړی خو مهمه دا ده چی د دی چاری او امکان لپاره په دقت سره د کار نقشه جوړه شی.

پای

## اخځ REFERENCES


۱. دودیال، محمد بشیر. (۱۳۸۶) د طبیعي منابعو اقتصاد. د پوهنتونونو لپاره درسي کتاب، د لوړو زده کړو وزارت چاپ: کابل- افغانستان

۲. دودیال، محمد بشیر.(۱۳۹۶)، منطقوی اقتصاد ، درسی کتاب .ختیځ خپرندویه ټولنه، جلال اباد- افغانستان.

۳. صباغ کرمانی، مجید. (۱۳۸۰) اقتصاد منطقه ای. سازمان مطالعه و تدوین کتب علوم انسانی دانشگاهي (سمت) : ایران –تهران

۴. حافظ نیا، محمد رضا. (۱۳۸۴)، افقهای جدید در جغرافیای سیاسی، سازمان مطالعه و تدوین کتب علوم انسانی دانشگاهی (سمت) : ایران- تهران.

5. Blair. P. J. (1991). Urban and Regional Economics, Richard Irwin Inc.

6. Raleigh Barlewe (1980), Land Resources Economic (The Economics of Real property), Michigan state University

7. Karl, Helmut. (2008) Economic Policy. Ruhr-University, Bochum – Economic Policy Department III

8. Nijkaup, P. (1986): Handbook of Regional and Urban Economics, (Vol.1) Elsevier publshers

9. Losch, A. (1964) Regional Development and Planning, MIT press.



سیمه ییز اقتصاد، اړتیا او له دی پلوه په سیمه کی د افغانستان دریځ، لمړی برخه

سیمه ییز اقتصاد، اړتیا او له دی پلوه په سیمه کی د افغانستان دریځ, دویمه برخه





افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de

یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولئ